# سپین غر

## د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)

Spinghar Institute of Higher Education (Nangarhar)




د طبي لوړو زده کړو معياري اداره

A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences

## پېژندنه

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې ايجاد او د لوړو زده کړو وزارت سره په نولسمه (۱۹) ګڼه ثبت او د ننګرهار ولايت په مرکز جلال اباد ښار کې يې فعاليت پيل کړ. سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) په پيل کې يوازې معالجوي طب پوهنځی درلود، چې د کال په تېرېدو سره د لوړو زده کړو وزارت د مثبتې ارزونې په پايله کې ورته د دوو نورو (ستوماتولوژي اوطبي تکنالوژي) پوهنځيو د فعاليت اجازه هم ورکړل شوه. سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه د لوړو زده کړو وزارت د کيفيت د تضمين او اعتبار ورکونې رياست لخوا ترسره شوې بهرنۍ مسلکي ارزونه کې د اعتبار اخستنې په دويم پړاو کې بريالۍ شوې ده او له نېکه مرغه په ۱۳۸۹ هـ ش کال کې يې خپله لومړۍ څانګه په مرکز کابل کې پرانيسته او پر فعاليت يې پيل وکړ.

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه د محصلينو معياري زده کړو او روزنې په موخه کادري استادان، معياري درسي نصاب، مناسب درسي چاپېريال، مجهز لابراتوارونه، عصري ۲۴ ساعته تدريسي او معالجوي روغتون، په عصري ټکنالوژۍ سمبال تحقيقاتي مرکز او نور ټول اړين او کومکي درسي او کاري اسانتياوې لري. سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه پرمختللی ډيټابيس يا ERP آنلاين سيستم لري، چې په مرسته يې ټولې تدريسي- او اداري چارې په ښه توګه سمبالېږي او همدا راز محصلين کولای شي، چې د همدې سيستم پر مټ خپل ټول تحصيلي معلومات د نړۍ په هر ګوټ کې په آنلاين ډول وګوري.

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې ټولې اداري او تدريسي- چارې د با تجربه او مسلکي متعهد کاري ټيم له لورې پرمخ وړل کېږي. سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه له ځينو نړيوالو سازمانونو او ټولنو سره غړيتوب هم لري، چې د FMRAC, WHO او ECFMG نومونه د يادونې وړ دي. سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه اوس مهال د پاکستان طبي شورا(PMDC) سره ثبت او همدا راز د ايران مشهد طبي پوهنتون سره د ګډو همکاريو تړون لري. د(Times Higher Education World University Ranking) په لست کې سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه د ټول هېواد په کچه يو له هغو درې خصوصي تحصيلي ادارو څخه ده چې د دوامداره پايښت اهدافو پر بنسټ په ياده درجه بندۍ کې د نړۍ له زرو پوهنتونونو څخه دي.



## لرليد

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې د طبي لوړو زده کړو په برخه کې د تدريس، نوښتونو او څېړنو له لارې په ملي او سيمه ييزه کچه د غوره علمي بنسټ په توګه وپېژندل شي.

## ماموريت

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه د معياري تحصيلي نصاب، مجهزو لابراتوارونو او تدريسي روغتون، با تجربه او مسلکي استادانو پر مټ د تدريس او څېړنو له لارې ټولنې ته داسې کادرونه وړاندې کوي، چې د عامې روغتيا سکتور اړتياوې پوره کولای شي.

سپین غر د لوو زده کړو مؤسسې اداره خپلو محصـلینو او هېوادوالو ته په لوړ کیفیت سره (عمومي طب، د غاښونو طب او طبي ټکنالوژي پوهنځیو)کې معیاري خدمتونه وړاندې کوي.

عمومي طب
پوهنځی

غاښونو طب
پوهنځی

طبي ټکنالوژي
پوهنځی



## سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې سره اړیکې


سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه ننگرهار هر وخت خپلې خبرتیاوې، اعلانونه او نور اړین نشـــــرات د بېلا بېلو ټولنیزو رسنیو له لارې له تاسو سره شریکوي. د دې مواردو له خبرتیا څخه په لاندینیو ادرســونو خپل ځانونه خبرولي شـــئ.

www.spingharuniversity.edu.af

info@spingharuniversity.edu.af

Spinghar Institute Of Higher Education

Spinghar Institute Of Higher Education



## اسانتیاوې